محترم والدين او سرپرستانو،

ستاسي ماشوم په _____ د سنډيا ماونټين طبيعي تاريخ مرکز (Sandia Mountain Natural History Center (SMNHC)) څخه د يوه ايکولوژي ساحې پروګرام لپاره ليدنه کوي. د ورځې ډيره برخه به د متوسط 2 مايل لارښود شوي مزل ته ورکړل شي چې د ځنګل، څړځايونو، او لوړو او ژورو غرنيو ساحو څخه تيريږي. زده کونکي به د سنډيا غره د ايکوسيسټم په اړه زده کړه کوي پداسي حال کې چې په ساينس کې د ماشومانو ښکيلتيا لپاره ډيزاين شوي دباندې فعاليتونو کې به برخه اخلي.

د ځان سره راوړئ:
- د غرمې خواړه او اوبه
- کتابچه او پينسل
- کڅوړه

د خپل سفر لپاره چمتو کړئ:
- د سيدار کريسټ د موسم راپور وګورئ
- مناسب کالي واغوندئ
- د لمر عينکي
- د حشراتو مخنيوی کونکی (د ګرمۍ مياشتې)

واغوندئ:
- هوسا، د تګ يا مزل کولو لپاره مناسب بوټان
- د خولو کميس، جاکټ، او/يا باراني جاکټ
- خولۍ

په SMNHC کې بريښنايی وسايل مجاز ندي؛ په هرصورت، که ستاسي ماشوم تليفون لري، هغوی بايد د خپل ښوونځي د تليفون پاليسي په پام کې ونيسي.

د APS د تاسيساتو په توګه، مورِ د APS د کووډ لارښوونې او ستاسي د ټولګي مقررات تعقيبوو، مګر دا به غوره وي چې هرڅوک د ځان سره ماسک ولري.

SMNHC په سيدار کريسټ کې د البوکيرک ختيځ ته د پينن – جونيپر ونو 128 هکتار ځنګل کې موقعيت لري، د سيبولا ملي ځنګل سره په ګاونډ کې دی، او د نوي مکسيکو د ملي تاريخ او ساينس موزيم سره په همکارۍ د APS ملکيت دی.

مورِ د سنډيا ماونټين طبيعي تاريخ مرکز څخه ستاسي د ماشوم ليدنې ته سترګې په لاره يو.

په درنښت،
د SMNHC کارمندان

د سنډيا ماونټين طبيعي تاريخ مرکز
60 Columbine Ln.
Cedar Crest, NM
505-281-5259
www.aps.edu/smnhc